معصومه غرنۍ ۲۰۲۲/۰۳/۲۹

غزل

ورک يې که دا زړه ترې سپکومه نور
ورک يې که زه هيلې هيرومه نور

ورک يې که شيبه شيبه دی درد په کې
ورک يې که نصيب مې بدلومه نور

ورک يې که مالت پرې راوينيږي اوس
ورک يې که بنګړي نه شرنګومه نور

ورک يې که د سترګو په چينو کې اې!
ورک يې که تصوير دې ورانومه نور

ورک يې که غزل عزل غزل کيسې
ورک يې که له خيال ځنې تورږمه نور

ورک يې که دا تا هم غرنۍ په زور
ورک يې که له ځانه بيلومه نور

معصومه غرنۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ